ما هېڅکله رسول الله صلى الله عليه وسلم په خندا کې په دومره مبالغه نه دی لیدلی چې د ستوني غوښه يې ښکاره شي، بلکې مسکا به يې کوله

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: ما هېڅکله رسول الله صلى الله عليه وسلم په خندا کې په دومره مبالغه نه دی ليدلی چې د ستوني غوښه يې ښکاره شي، بلکې مسکا به يې کوله.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خندا کې دومره مبالغه نه کوله چې د ستوني پورتنۍ غوښه يې ښکاره شي، هغه چې په ستوني کې له پاسه راځوړنده وي، بلکې مسکا به يې کوله.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3060